# بلا وه برکت ئې نۀ ؤ

سعدالله جان برق

وائي چې بلا وه او برکت ئې نۀ ؤ، دې تېرو ورځو کښې چې زمونږ پښتنو په کور څۀ تېر شول هغه څۀ معمولي غم نۀ وۀ. يو دم دومره ډېر خلق د يو ځائے نه بل ځائے ته تلل او هغه هم داسې د بې سروماني او بې وسي په حالت کښې. دا ډېره لويه خبره ده. يو کور ته چې هم دومره ډېر مېلمانۀ په يو وخت راشي نو د کوروالـه وارخطا شي او دا خو د ډېرو نه هم ډېر وو، بيا په دوي کښې زنانه وې، بوډاګان وو، ماشومان وو، مريضان وو چې شل قسمه ضرورتونه ئې لرل.

د هر څۀ نه ورتېره خبره پکښې دا وه چې د يوې يخې علاقې نه عېن د ګرمۍ په موسم کښې ګرمې علاقې ته راتلل بلکې په راتللو مجبورېدل په خپله يو ډېر ګران کار دے. کومو علاقو ته به چې په دې موسم کښې خلق سېل د پاره او د ښۀ موسم نه د خوند اخستلو د پاره تلل د هغې علاقې خلق هغه علاقې ته تلل چې خپل خلق به ترې تښتېدل، بېخي يوه دردناکه خبره وه خو هغه د فارسيوانو خبره چې رسيده بود بلائے ولې بخېر ګزشت.

د مشرانو د خُلې وېنا ده چې څنګه ښې ورځې تېرې شي نو داسې بدې ورځې هم تېرېږي. نو دغه بدې ورځې هم تېرې شوې او دې ته به مونږ خېر وايو چې په خېر خېريت تېرې شوې.

د راغلو مېلمنو حوصلې په خپل ځائے خو په دې کښې هم شک نشته چې د دې ځائے خلقو هم ډېر په مړانه ډېر په همت او ډېر په خلوص د خپلو دغه ورونو لاس مدد وکړلو د چا چې څۀ وس ؤ هغه ئې وکړلو.

کۀ حکومتي ادارې وې کۀ اولسي ادارې وې، کۀ تنظيمونه وو او کۀ افراد هر چا دې غم ته خپل غم، د خپل کور غم، د خپل ورور غم وئيلے ؤ او د هر قسمه قربانۍ ته ئې په روڼ تندي غاړه اېښې وه.

د دې ټولې واقعې نه چې کومه خبره ثابته شوه هغه دا ده چې لا انسان په دنيا موجود دے، لا



انسانیت ژوندے دے او لا دنیا د اوسېدو قابله ده په دې کښې شک نشته چې په دنیا کښې خراب خلق هم ډېر دي، بې درده ظالمان او بې رحمه خلق هم ډېر دي. دا هم هر چا ته معلومه ده چې په نن زمانه کښې ځان ځاني او نفسي نفسي هم ډېره ده خو دا خبره هم ببشکه بې شبې ثابته شوه چې د بدو په مقابله کښې ښۀ انسانان ډېر دي او خدائے دې ئې همېشه ډېر لري.

په دې واقعاتو کښې د دغه دواړو قسمه انسانانو ښه پته ولګېده، کۀ یو طرف ته دا ثابته شوه چې هم د یو ملک، یوې خاورې، یو دین او یوې وینې خلق په یو بل څومره ظالمان کېدے شي، څومره بې رحمه کېدے شي او څومره بې انصافه کېدے شي نو بل طرف ته دا هم معلومه شوه چې لا مینه، خلوص او انسانیت مړۀ نۀ دي. کۀ داسې واقعات یو طرف ته د غم او درد نه ډک وي نو بل طرف ته د ډېرو سبقونو عبرتونو او تجربو نه هم خالي نۀ وي او اصلي انسان هغه دے چې د داسې واقعاتو نه سبق واخلي، عبرت ترې حاصل کړي او د راتلونکي ژوند دپاره ئې د لارې مشال کړي. تاریخ څۀ شے دے او مقصد ئې څۀ دے؟ د تاریخ واقعات



صرف د ساعت تېرې دپاره قیصې نۀ دي، بلکې د عبرت او سبق د تعلیم نه هم ډک دي. د تاریخ مطلب دغه دے چې مونږ ته دا معلومه شي چې کومو خلقو څۀ غلطي کړې وه او د هغې نه ورته څومره نقصان رسېدلے ؤ او کوم داسې ښۀ عمل ئې کړے ؤ چې په نتیجه کښې ئې ورته فائده رسېدلې وه او بیا دغه قسم غلطۍ یا ښۀ عملونه مونږ څنګه د خپل راتلونکي وخت دپاره خپل سبق ګرځولے شو.



هره واقعه، هره حادثه او هره خبره کښې څۀ نا څۀ عبرت وي، هغه د پښتو متل دے چې وړومبے د وروستي پُل وي، مخکښې چې کوم کس روان دے کۀ هغه چرته تیندک وخوري نو وروستي له فوراً لاندې کتل پکار دي چې زما دې وړاندېني ملګري په څۀ تیندک وخوړو نو چې هغه شے زۀ ووینم نو ښه به ترې پورته واخلم یا کۀ مې وس ؤ نو د لارې نه به ئې



اخوا کړم، چې بل راتلونکے پرې دربل نۀ شي دغه رنګ په دې واقعاتو کښې هم ډېر سبقونه او ډېر عبرتونه وو او دي خو کۀ څوک ورته په دغه خيال وګوري. علامه اقبال يوه ډېره ښه خبره کړې ده وائي چې "فطرت د افرادو غلطي معاف کړي خو د قومونو غلطي هرګز نۀ معاف کوي" او د دې خبرې ګواهۍ د پاره د تاريخ هره پاڼه ګواهي ورکوي چې کله کله قومونو اجتماعي غلطۍ کړې دي نو د هغې انجام ډېر دردناک او عبرت ناک ختلے دے. اصل کښې دا يو ښکاره حقيقت دے چې کۀ فرد غلطي وکړي او څۀ نقصان بيامومي نو ډېر خلق به لاس مدد ورسره وکړي او مالي ځاني يا بل هر څۀ نقصان چې ئې شوے وي هغه به ورله پوره کړي يا به ډاډ ورکړي خو قومونو سره نۀ څوک مدد کوي او نۀ مدد کول آسان وي. نو ځکه د قومي نقصان پوره کېدل بيا ممکن نۀ وي نو دې د پاره همېشه تاريخ ځان ته مخکښې ساتل پکار دي چې بيا چرته هغسې غلطي ونۀ شي کومې چې وړاندې دومره نقصان کړے ؤ.

په دې تازه واقعاتو کښې هم مونږ د پاره ډېر زيات سبقونه دي هغه غلطۍ هم پکښې ښکاره دي، هغه غلط خلق هم پکښې مخامخ دي او هغه غلط



کارونه هم ظاهر دي د کومو د لاسه چې قوم دا ورځ وليده او دا دومره لوئے غم، لوئے نقصان او لوئے تکليف ورته ورسېدو.

بيا پکښې دا هم د چانه پټه نۀ ده چې چا چا څۀ څۀ وکړل. هغه نورې ټولې خبرې ډېر لوئے تفصيل غواړي او دردناک اړخونه ئې هم ډېر دي خو مونږ له دا کتل زيات ضروري دي چې هغه ښۀ اړخونه پکښې کوم دي او د هغو فائدې څومره دي او هغه هم هغه خبرې دي چې ما وړاندې وکړې. واقعات خو د غم ډک وو خو د مينې خلوص او ورورولۍ د برکته په خېرخېريت تمام شول. نقصان ډېر شوے دے خو دا فائده هم څۀ کمه قيمتي نۀ ده چې مونږ ترې حاصله کړه چې ورورولي وي، مينه وي، خلوص وي، همدردي وي نو د هر قسم مصيبت سره مقابله کېدے شي. مينه، خلوص او همدردي يو دومره مضبوط ډال دے چې د هر قسم ګوزار په شا تمبولو او بې اثره کولو توان لري.

پښتنو کم از کم دا خبره خو ثابته کړه چې دې يواځې جنګ جنګ، شر شر او کرکه کرکه نۀ دے بلکې مينه مينه، خلوص خلوص او ورورولي ورورولي هم دے. هر څۀ به وي ډېر عيبونه پکښې شته، ډېرې کمزورۍ لري، ډېر زر زر غلطېږي خو

چې کله وخت راشي نو د مينې او خلوص سارے ئې هم نشته.د غرونو او سپېدونکے دے نو لکه د غر په شان کۀ تورکانړي لري نو سرۀ ګلونه هم ټوکولے شي د پاس نه کۀ هر څومره سخت دے نو په مېنځ کښې ئې د يخو خوږو اوبو چينې هم شته. بلکې ډېر معدنيات هم پکښې شته خو لټون غواړي.

لا مې محبت او مينه شته دے لا ژوندے يمه
لا خو مې په زړۀ کښې وينه شته دے لا ژوندے يمه